# په بیډ پلانټر سره د فصلونو کَرل




## فایدے:

* د اوبو بچت ۳۰ نه ۵۰ فیصدی پوری وی .
* د بوټو لپاره وتر تر ډیر وخت پوری محفوظ وی .
* د زمکې ویخ نه سختیږی او زمکه نرمه او محفوظه وی
* دجړوبوټو راختل کم وی فصل د پریوتو نه محفوظه وی .
* د بوټو راختل یو شان او نشونمائی بهتره وی .
* د بوټو څانګی مضبوطی وی او د داني سائز ئی هم غټ وی .
* د سرې استعداد بهتر وی او بوټی ته په بهتره طریقې سره ملاویږی .
* په زمکه د زیم په وجه فصل ته نقصان نه رسی .
* د باران او فالتو اوبو اخراج د تیرو نه په بهتره طریقې سره کیږی . په دی سره فصل د نقصان نه محفوظه وی .
* په پیداوار کې د ۲۰ نه ۳۰ فیصدی پوری اضافه ممکنه وی .

## ضروری مشورې

* غنم په وخت یعنی د ۱۵ نومبر نه وړاندی وکرئ.
* همیشه صفا ستهرا او تصدیق شوې تخم استعمالوئ.
* د وټو پلنوالې ۲۴ انچ وساتی.
* په شګنه زمکه کې د وټو پلنوالې یو فټ ایخودې کیدائی شی
* په وټو کې ۴ قطارونو باندی ولګوی.
* د تخم شرح ۲۵ کلو یو ایکړ زمکې لپاره کیږدی.
* ورومبی اوبه خور د کرلو نه یو هفته دننه کې وکړی.



**Pakistan Council of Research in Water Resources (PCRWR)**
**Water Resources Research Center (WRRC)**
**Plot # 31,32, Mian Double Road Sector E-8, Phase 7, Hayatabad Peshawar.**
**Post Code # 25100, Ph: # 091-9217807 , Fax # 0919217816**

ICARDA
Science for Better Livelihoods in Dry Areas

USDA

# په بیډ پلانټر سره د فصلونو کَرل

بیډ پلانټر سره د کَروندې کولو طریقه:

- ★ زمکه کې ایوې وماله (سهاګه) وکړئ او ښې طریقې سره ئې تیاره کړئ. که ضروري وي نو لګ اوبه خور وکړئ.
- ★ چې کله زمکه وتر شي نو بیډ پلانټر سره تخم وکړئ.
- ★ د استعمال نه وړاندې د بیډ پلانټر د حصو معائنه وکړئ.
- ★ د زمکې د قسم او د فصل مطابق د وټو او دوپچو د سائز تعین وکړئ.
- ★ د مطلوبه فصل لپاره دسرې او د تخم دشرح تعین وکړئ. بیډ پلانټر د تیرونو سائز د تخم دحصول لپاره سیټ کولو ته کیلی بریشن (Calibration) وائي . دا ډیره ضروري ده چې داستعمالولو نه وړاندې د مشین کیلی بریشن وکړې شي که نه وي نو نتائج به ئې هیڅ کله خه نه وي .
- ★ د مشین دفلائي ویل (Fly Wheel ) (پل او ګرارے) د قطر پیمائش وکړئ او د پائي احاطه معلومه کړئ.
- ★ دپټي او ګدوالي او پلنوالي معلوم کړئ.
- ★ معلومه کړئ چې د پټي اوګدوالي احاطه کولو کې به دپل اوګرارے( فلائي ویل ) خومره چکرونه پکاروي .
- ★ دبیډ پلانټر پلنوالي معلومه کړئ.
- ★ معلومه کړئ چې د پټي پلنوالي احاطه کولو کې به ټریکټر ته خومره چکرونه لګول پکار دي .
- ★ د تخم خانه کې تخم واچوئ خیال وساتئ چې دتخم سطح ( پورتنئ حصه) برابره وي.
- ★ د خالي ډبو یا د پلاسټک د تهیلو وزن وکړئ او هغه د پایو لاندې ونړئ.
- ★ پل ګرارے یا فلائي ویل ته یو پوره چکر ورکړئ او د خالي ډبو یا دپلاسټک د تهیلو بیا وزن وکړئ. دجمع شوی ټول تخم وزن وکړئ.



- ★ د ټول جمع شوي تخم مقدار ته د پټي د اوګدوالي لپاره پکار د پل ګرارے یا وفلائي ویل چکرونو ته د ټریکټر د پټي د پلنوالي لپاره پکار چکرونو سره ضرب ورکړئ. دا به د پټي لپاره پکار د تخم مقدار یا شرح وي .
- ★ که دا مقدار د مطلوبه تخم د شرح نه کم یا زیات وي نو د چیمبر سوري سیټ کړئ او ذکر شوے عمل دوباره وکړئ.
- ★ د هر پائپ نه حاصل شوي تخم وزن به یو شان وي . که نه وي نو د پائپ سوري بیا دوباره سیټ کړئ.
- ★ د وټو او دوپچو بیډ او فرو(Bed and Furow) سائز د پټي د ټکو مطابق پکار دي او دا ټکي متوازي پکار دي .
- ★ په مناسب وخت باندې وټو باندې ۳/۴ حصه (۷۵%) پورته پوری اوبه خوراوکې .
- ★ مشین د استعمال نه وروستو خه صفا کړئ او د دې نه وروستو ئې سروس وکړئ دهغې نه وروستو ئې په چین او ګراری لیول باندې ګریس وغیره ولګوئ.
- ★ داستعمال نه وروستو پلانټر پلاسټک شیټ سره په ښې طریقې سره پټ کړئ. بهتره داده چې په پرې سره ئې ارخونه ونړئ دې لپاره چې هوا سره شیب نه الوځي .
- ★ مشین د هموارې زمکې نه یو فټ پورته ځائې باندې د شیډ نه لاندې یا په ستور کېمحفوظ ځائې باندې ودروئ.
- ★ ټول بکس کټ همیشه لپاره ځان سره ساتئ. او په ټول کټ کې رینچ، پلاس ، کلمپس، سپرنګ، نټ بولټ ، ګریس یاتیل ، نپل ، پرې، د وسپنې تارانچې ټیپ وغیره



**Pakistan Council of Research in Water Resources (PCRWR)**
**Water Resources Research Center (WRRC)**
**Plot # 31,32, Mian Double Road Sector E-8, Phase 7, Hayatabad Peshawar.**
**Post Code # 25100, Ph: # 091-9217807 , Fax # 0919217816**